مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب الله پتمن ۲۰۲۱/۱۰/۰۲

واک که ناورین

د رینسانس لوی دیپلومات او درباري سیاستوال نیکول ماکیاول لیکي :
" هر هغه څوک چې تل د سپیڅلتوب اوښیګړې هڅې کوي د زیات شمیر خلکو په منځ چې ښه نه دي له بربادۍ سر ه مخامخ کیږي.
" په همدی بنیاد یوښهزاده که غواړي خپل واک ټینګ وساتي باید دا زده کړي چې څنګه ښه نه وی او دا پوهه په خ پل ځای کېوکاروي تر کومه چې اړتیا وي .

واکمنان ځانونهد سپیڅلتوب په لوړو څوکو ګوري مګر د واک لاندې رعیت په تیاره احساساتو ، بخیلتوب،شهوت، کرکه او د بغاوت په اور کې ګوري. نن ورځ زموږ په خاورین نړۍ کې واکمنان یوازې د واک په کاذب غرورکې خپل ځانونه سپیڅلی ګڼي، دا لوبه ډیره لرغونې ده، د بابا آدم له خلقت تر نن ورځ یوازې بڼه توپیر کوی مګرپه ماه یت کې له لرغونې زاړه زړی نوی واکمنان را زرغونیږي.

له تیرو څلورو لسیزو را پدیخوا تر نن ورځې پوری بد نصیب افغان ولس د ځواکمنو او حریصو واکمنانو د بیتدبیر ه سیاست په اور کې سوځي او له راتلونکی نامعلوم برخلیک سره لاس او ګریوان دي ، خو دا څرګنده خبره ده چې واکمنان یوازې د خپل واک او ځواک په ټینګښت سوچ کوي ، ولس د واک لپاره د وسیلې په توګه کارویاو د خپل واک دوام ته د ستراتیژیک هدف په سترګه ګوری.
ناپلیون بوناپارت واکمنانو ته سلا ورکوي : که غواړئ د قدرت په دربار کې ښه وځلیږئ ،خپل مخالفین د پولادیسو کانو په وسیله په ماهرانه توګه قابو کړئ، دجادو ، منتر ، غولونې او چل ول سره یې لارورکې کړئ، خلک بایدس تاسو د واک ارادې ته په رکوع شي او که چیرته خلک ستاسو په نیت او اراده پوه شي دوی به ناراضي او پهمقاوم ت به لاس پورې کړي.

"د واک دربارونه په ظاهر کې د ښه تهذیب او اصیل نصب کسانو ځای دی، مګر په حقیقت کې دا مقامونه دقصابان و او لوټمارو واکمنانو ځانګړې امتیاز دی. دا کسان چې په ادب او موسکا سره ولسونه غولوي مګر پهرښتیا سره په خلکو په ښکنځلو او وهلو او سپکاوی واک چلوي، دوی ښیګړې او بدکړنې په یو لوښی کې ګډوي. "
لورد چیستر فیلډ (1773- 1694)

" دا د حیرانتیا خبره نده چې پسونه ښکاري مرغان نه خوښوي مګر دا د ښکاري مرغانو د ښکار پر مخ کې خندن شی جوړولي. دا ښکاري مرغان شیطانان دي، مګر دا هم دلیل نشی کیدی چې د ښکاري مرغانو مخالفین بهخامخا ښه وی ؟ اصلا ددی دلیل له مخې هیڅ شی ناسم ندی- ښکاري مرغه په ځورونکی توګه وایي : موږ لهعاجزو پسو نو سره ستونزه نلرو، موږ له دوی سره خواخوږي لرو او د هیڅ شی خوند د نرم پسه له غوښی غوره نهدی.
فریدریک نیچه (1900- 1844)

واک یو ټولنیزه لوبه ده. د لوبی زده کول او ماهرانه مشرتوب لپاره د خلکو د ارواوو څیړلو او پوهیدلو ته ژور پام کوي. د اوولسمې پیړۍ لوی مفکر او درباري سیاستوال بالتاسرګراسیلین لیکي :

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

" ډېر خلک خپل وخت دځارویو یا بوټو د خواصو په پیژندلو تیروي، خو دا به ډېره غوره وی چې د خلکو په اړه څېړنې وکړي، دهغه خلکوپه اړه چې د ګډ ژوند او مرګ یو برخلیک لری ."
که غواړئ چې ماهر لوبغاړې اوسئ باید په اروا پوهنه کې ماهر استاد اوسئ. دهغو دعمل تر شا پټو پرتو انګیزوځا ن پوه کړی، ځکه واک د چل ، چالاکی، غولونو او ګناوو دروازې پرانیزي.
واکمنان د لایتناهی زنځیر کړی دي او موږ نشو کولي ټول دهغو په پیژندلو لاس بری شو، مګر د واک په پټ راز پوهیدل ډېر اړین دی.

بالاخره واک په ټولنه کې یو غولونکی او لارورکی پدیده ده، یو پیچلي سیاسي لار ده چې د کړکیچونو په لایتناهیمع ادله کې خپل واکمن او عام ولسونه د بربادۍ کندی ته ورټیله کوي .
کله چې د واک معادله رنګه شي ملیونونه انسانان باید د هغې د رنګیدلو بیه پری کړي.
په افغان ټولنه کې په تیرو څلورو لسیزو کې بی باکه واکمنانو بی تدبیره او بی پلانه لوبه وکړه.
ددغه نادان واکمنانو لوبې د مرګ ، غضب او ملینونو بی وسه افغانانو د ژوند په بیه پای ته ورسیدلي.واکمنانو داس ې اور بل کړ چې خلک یې په منځ کې سوځیدل او دوې په څنډو کې سیل کول بالاخره د اور لمبې د دوې لمنوته و رسیدلي او په ناڅاپي توګه د خپل بل کړی اور خوراک شول.

یو وخت فرانسوي ورځپاڼه لیکونکی د واک په اړه حیرانتیا څرګنده کړه :
ولې نن ورځ د ډېرو خلکو په مغزو کې د واک شوق را پورته کیږي ؟
ایا واک دومره ارزښتمن موضوع ده ؟
ایا د ټولنې د اهرم دجوړښت په راس کې واک ځای لری ؟
واک نه یوازې تیوریک بحث دی بلکه زموږ د ژوند د تجربې برخه ده.
انسان له آدم بیا تر نن د واک په ناروغۍ اخته دی، په شلمه پیړۍ کې د جرمن فاشیزم د واک ناروغۍ غوره مثالوو چې د ملي سوسیالیزم ایډیالوژیک بنسټ جوړول او بالاخره د اویا ملیونه انسانانو د ژوند په بیه ونړیدل.

ایمانویل کانت وایي : د عقلانیت د فلسفي ارزښت پدی کې دی چې باید د خپلو پولو ها خوا د وتلو مخنیویوشي او دا کار په ټولنه کې د سیاسي عقلانیت په مرسته کیدی شي.
دولت د واک په سلسله کې د وژلو ، سوځولو او ځورولو کمپ نه دی.
د اتلسمې پیړۍ په پای کې کانت په الماني ورځپاڼه The Berliner Monatshrift کې یو لنډ متن کې داسپولیکل :
Was heisst Aufklarung ? اوس څه پیښیږي ؟
دا متن اوس هم له وړوکی اهمیت څخه برخمن دی، مګر نشی کیدي د ستونزی په حل کې مرستندوی واقع شی،کان ت د فیلسوف په مقام کې د فلسفي دندې په توګه وړاندیز کوی چې نه یوازې ماوراطبیعت سیستم وڅیړي، یاد ساین سي پوهی بنسټونه را وسپړي مګر یو معاصره تاریخي پیښه یعنی واک ته هم ځواب ووایي.
په 1784 کال کې د کانت د پوښتنی معنا دا وه : اوس څه پیښیږي ؟
موږ د روشنفکري د یوی برخه یو ؟
موږ ته څه راپیش شول ؟
ایا موږ پدغو تاریخي شیبو کې څنګه ژوند کوو ؟
یا په بل عبارت موږ څوک یو ؟
د کانت دا پوښتنه زموږ په اوسمهال ژوند له زیات فلسفي ارزښت برخمنه ده.
که د هیګل ، نیچه او ...نور فلسفي نظریات له نظره ونه غورزوو، زموږ نړۍ او د واک پوښتنه د فلسفي دندی پ هتوګه خورا ارزښتمن دی.
نن افغان ولس د واک ناروغۍ په زندان کې د څو تیغه توری له ګوزاره کړیږي .
پایله دا چې زموږ د نن ورځی سیاسي ، اخلاقي او فلسفي ستونزه یوازې دا نده چې څنګه ولسونه د ځواکمنو له استبدادی واک او ناکاره دولتي جوړښت ازاد او وژغورو، موږ باید د بیعت او برده ګۍ له منلو بالکل انکار وکړو داسې نا انډوله ذهني واک چې پیړۍ پیړۍ په موږ تپل شوی ځان او ولس خپلواک کړو.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ